AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۴/۱۳

# یوه د حسرتونو ډکه جمله

زما د فیسبوک یو ملګري چې ډیر پخوا یې راته لیکلي وو چې زما نشر شوی مطالب په فیسبوک کې ورته ډیر په زړه پوري دي ،اوډیر خوند تری اخلی، ده لیکلي وو، چې د شرایطو له وجهی نشم کولای چې د خوښی علامت لایک او په اصطلاح کمنټ وربانډی ولیکم ،چې دلته شرایط انسانی نه دي او لیکلي وو، چې مطالب دي تعلیمی ، تربیوی ، اخلاقی، تصوفی ، فلسفی، اصلاحی آو علم او معرفت ته په هڅوني کې دي.

ما د ۲۰۱۸ کال د نوي کال یوه خاطره چې د فیسبوک اداري راالیږلي وه،او په ۲۴ د مارچ د کلیفرنیا په فریمانت کې چې د وتلي او نامتو شاعر عبدالباری جهانی سره مو عکسونه اخیستي وو ، د فیسبوک اداري په خاطرو کې راالیږلي وه ، چې ما همشریکانو سره شریکه کړه ،زما همدغه صاحبدل ملګري له افغانستانه څخه چې تصویر او زما لیکنه یې کاپی کړی او ما ته یې په میسینجر کې راالیږلي،یوه جمله ای له افغانستانه لیکلي ،چې د یو لوی دیوان په اندازه خبری یې رسولي ،دا چې زمونږ ژوند یې دلته لیدلی چې انسانی ژوند او آرامه ژوند دی او په ادب او نزاکت کې دی نو لیکلي یې دي :(څو نه خوند کوی چې سړی د انسانانو په مینځ کې وي)بس همدومره زما زړه پرې ډیر وردیده ورته می ولیکل مننه قدردانه چې یوه جمله دي لیکلي خو یو دیوان خبری دي تر
مونږه رسولی ،ښه ژوند درته غواړم ،ما ستا د دي یوې جملي نه ستا د زړه درد او دزړه آواز واوریده په دي جمله کې زمونږ د واکدارانو له پاره ښه پیغام لري که دوی د عبرت شنوا او اوریدونکي ،غوږونه درلودلای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ